د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

یکشنبه، 29 محرم، ۱۴۴۶هـ | ۲۰۲۴/۰۸/4م | ګڼه: ح.ت.افغ 2/۱۴۴۶

## مطبوعاتي اعلامیه

## د دوحې تړون ته په پابندۍ سره که افغانستان له فلسطين سره پوله هم لرلای، څه شی یې نه شول کولی!

د ایسنا خبري شبکې د راپور له مخې د افغانستان د حکومت د رئیس الوزراء سیاسي مرستیال، چې د ایران د نوي ولسمشر د لوړې مراسمو کې د ګډون په موخه یې تهران ته سفر کړی و، د فلسطين د قضیې په اړه څرګنده کړې چې: *«افغانستان د ایران له اسلامي جمهوریت سره د غزې د مظلومو خلکو ملاتړ کوي او که چېرې موږ له اشغالګر رژیم سره پوله لرلای، نو د غزې له مظلومو خلکو څخه به ملاتړ په جګړه کې ور ګډېدلو».*

د رئیس الوزراء سیاسي مرستیال داسې وخت دغه خبرې کوي چې د دوحې تړون او د ځینو غیر شرعي افکارو شتون د افغانستان د حکومت لاسونه داسې د شا لخوا تړلي چې حتا که افغانستان د فلسطين پر ځای هم وای، نه یې شو کولی چې د یهودي دولت پر وړاندې ګام پورته کړي. امریکا د دوحې په تړون کې د افغانستان له فعلي حکامو ژمنه اخیستې *«چې خپل هیڅ غړي او د القاعدې په ګډون نورو افرادو او ډلو ته به اجازه ور نه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی متحدینو ته د تهدید لپاره استفاده وکړي.»* امریکا په دغه تړون سره خپل متحدین له خطر څخه خوندي کړي دي او یهودي دولت د اسلامي خاورو په زړه کې د امریکا تر ټولو ستر ستراتژیک شریک او متحد دی.

پر دغه اساس، د دوحې تړون ته په پابندۍ سره که افغانستان له فلسطين سره پوله هم لرلای، نو د حاکمانو استدلال به یې د مصر او اردن د حاکمانو له استدلال سره توپیر نه درلود. دغه هېوادونه چې د افغانستان په پرتله ډېره نظامي وړتیا لري، د فلسطين له خلکو سره د نصرت نه کولو لپاره پر خپلو اقتصادي مصلحتونو او سیاسي هوکړهلیکونو استدلال کوي. مصر په ۱۹۷۸ کال کې له اسرائیلو سره کمپ ډیویډ د سولې معاهده لاسلیک کړې او اردن په ۱۹۹۴ کال کې د *وادي عربه* تړون لاسلیک کړی چې د هغو پر اساس یې تعهد کړی چې اسرائیلو ته به خطر متوجه نه شي.

یو بل مورد چې د اسلام د هر اړخیز تطبیق او مظلومانو د نصرت په لاره کې یې د افغانستان د حکومت لاسونه تړلي دي، د دغه نظام «پراګماټیک او اقتصادي محوره» سیاست دی. په دغه سیاست کې اسلامي ارزښتونه کمزوري کېږي او ملي ګټو او اقتصادي اړیکو ته لومړیتوب ورکول کېږي. اقتصاد محوري او شخصي او ملي ګټې دي چې له فلسطين سره همسرحده هېوادونه یې د غزې له مسلمانانو سره خیانت ته اړایستلي دي. امریکا د اسرائیلو د امنیت د تأمین لپاره له مصر او اردن سره مالي مرسته کوي او لبنان او سوریه هم د ملي ګټو او اقتصاد محوره سیاست پر بنسټ استدلال سره خپل خیانت ته دوام ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې اسلام بهرنی سیاست د دعوت او جهاد له لارې د اسلام حمل (لېږد) مقرر کړی دی.

هیڅ عذر د اسلامي خاورو حکام د فلسطين له مظلومو خلکو سره له نصرت څخه نه شي راګرځولی. که واقعاً له فلسطين سره پوله نه لرل له هغوی سره د مرستې نه کولو لپاره عذر وي، باید پام وشي چې افغانستان له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره هم پوله لري، چېرې چې پر اسلامي شعائرو بندیز لګېدلی او مسلمانان د اسلام په خاطر په زندانونو کې اچول کېږي او شکنجه کېږي. حتا تاجک مسلماني خوېندې چې د تاجکستان حکومت یې د حجاب پر ایسته کولو حکم کړی او هغوی د افغانستان لور ته د «وا معتصماه» په څېر ناري وهي! دغه راز له شرقي

ترکستان سره هم پوله لرو، هغه خاوره چې د کمونیست چین لخوا اشغال شوې ده او د یهودي دولت په څېر یې پر خلکو ظلم او تېری کوي. خو د افغانستان حکومت وايي چې د «واحد چین» سیاست ته ژمن دی او د چینایي پلاوو تود هرکلی کوي.

پر دغه اساس، که د افغانستان حکام د تقوا لار خپله نه کړي او له ډیپلوماټیکو او تشو خبرو څخه لاس وا نه خلي، نو ډېر ژر به د نورو اسلامي خاورو د حکامو له کاروان سره یو ځای شي. د نورو حکامو د استدلال له اسلوب څخه ـ چې له خپلو خلکو سره خیانت کوي ـ باید ډډه وشي او د الله سبحانه و تعالی له مکر څخه باید ووېرېږو، ځکه چې الله تعالی تر ټولو غوره مکر کوونکی دی. باید پوه شو چې څرنګه چې د مظلومانو نصرت پر اهل قدرت فرض دی، دغه شان پرې د خلافت تأسیس هم فرض دی، د خلافت دولت به د ټینګې کلا په څېر د مسلمانانو له وینو او حریم څخه دفاع وکړي. نو د اهل قدرت شرعي مسوولیت دا دی چې، هر میثاق چې د الله سبحانه و تعالی له میثاق سره په ټکر کې دی، مات کړي او د دویم راشده خلافت د تأسیس لپاره ګام پورته کړي، تر څو الله سبحانه و تعالی د هغوی مرسته وکړي او قدمونه یې ټینګ کړي.

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ** [محمد: ۷]

**ژباړه:** *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که د الله (دین) ته نصرت ورکړئ، هغه به ستاسو نصرت وکړي او ستاسو قدمونه به ټینګ او مستحکم کړي.*

## د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر